مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

۲۰۲۳/۰۹/۱۱

ډاکټر ګل مرجان منګل

# افغانان له یوې سختې تاریخي ازموینې سره مخامخ دي

وايي چې ملا نصرالدين په کور کې يوه زړه او ډنګره غواه درلودله شيدې يې نه کولې هسې که ټوله ورځ به يې ولوشله نو حد اقل يو ګيلاس شيدې به يې په ورځ کې ترينه راولوشلې.
د ملا ښځې خاوند ته وويل چې سرېيه په غوا مصرف او ستونزې ګالو، واښه خوري شيدې نه ورکوي خوښه د نه ده چې خرڅه يې کړو؟
ملانصرالدين غوا له پړي ونيوله د مال منډوي ته يې ورسوله ، کله چې ملا غوا دمنډوې په دروازه ور د ننه کړه دلالان د غوا څخه راتاو شول د غوا په صفت يې پيل وکړ.
وه والله چې دا غوا نه ده سمه پنجابۍ مينه ده ، پنځه وخته يې لوشي په وار سطل شيدې ورکوي، شنه نه خوري په وچو بوسو، هغه نه خوري تش يې چې بوی کړي مړه شي.
ملا نصر الدين چې د دلالانو له خولې د خپلې غوا صفتونه واوريدل غوا يې له پړي ونيوله دلالانو او په منډوی کې اخيستونکيو ته يې وويل چې دومره ښه او صفتي غوا ده نه يې خرڅوم هغه وو چې خوا يې کور ته بوتله.
دا خبره پدې راياده شوه چې له دوه کالونو راپدې خوا يو تعداد دوستان هڅې کوي تر څو افغانان د طالبانو پر وړاندې يو لوی چتر رامنځ ته کړي زما په ډول کسان چې نه مې په کوم لوړ منصب باندې دنده اجرا کړي، نه کوم ليکوال يم، نه کوم سياسي مشوره څيره يم، نه په تلويزيون يا راډيو کې کوم تحليلګر، نه هم د بهرنيانو سره اړيکي لرم خلاصه داچې ځوک راباندې باور نه کوي.
هغه کسان چې افغانان يې پيژني پنځه کسان ورباندې باور کوي په لوړو منصبونو يې دندې اجرا کړي، يا د کوم پوهنتون استاذ، پاتي شوی، يا کوم نيک نامه وکيل يا چرته والي پاتي شوی، وزير وو، ريس وو، خلک يې خبرو ته غوږ نيسي ، خبره يې ځای نيسي د هغوی سره بيا دا فکر وي چې که يم خو همدا زه يم که خلک د چا شاته ودريږي نو زما شاته بايد ودريږي ځکه زه په هر څه پوهيږم او هر څه کولای شم.
چې دغه کس ته بيا دليل راوړې ورته ووايي چې وسرېه بدون له شکه چې ته به ورړ وې، اهل به وې خو ستا په ډول نور کسان هم شته هغوی هم ستا په ډول فکر کوي چې ستا څخه پورته نه وي ښکته نه دي راځئ تاسو يوه منځيني لاره غوره کړی همدا تاسو څو کسان چې مسلک لری، تجروبه لری، په لوړو چوکيو مو دندې اجرا کړي،پاک پسمنظر لری، ولس مو پيژني خبرې ته مو غوږ نيسي او ستاسو خبره مني همدا تاسو په خپلو کې سره کښينئ د ځانمنۍ او خودخواهی،ګوندي بهزی، قومپرستی، ژبنيو، سمتي او مذهبي مسايلو تير شئ هيواد اشغال دی، ملي ارزښتونه يې له منځه وړي داسي جاهله طيفه د قدرت په ګدئ ناسته ده چې نه خدای مني نه قران مني نه د محمد ص طريقه يا لاره مني ، نه اساسي قانون مني، نه غير له طالبه بل چاته په قدرت کې ونده ورکوي، نه کار اهل ته سپاري، نه له ولس څخه مشروعيت لري نه يې فکر کوي، نه نور ګوندونه مني، نه ټاکني مني، نه ولسواکي مني، نه ښځو د انسانانو په سترګه ګوري، نه جنکياني ښونځيو ته پريږدي،، د بيان ازادي نشته، په ملي شتمنيو يې چور ګډ کړی درګرده يې ليلام کړي ، د نړيوالو سره اړيکي نشته، د افغانستان ملي او د تجارانو شخصي سرمايه کنګل شوي، تجارت په ټپه ولاړ دی، کاروبار نشته لوږه اخري اوج ته رسيدلي ده ماشوم،ځوان، سپينږيری، ښځه او نر د هيواد څخه د فرار په حال کې دي چې لاره پيدا کړي وتلی شي افغانستان پريږدي تبنتي تر ټولو مهمه دا خبره چې يو ځل بيا هيواد د ابر قدرتونو تر منځ د يو سخت رقابت او د زور ازموينې په ډګر ګرځيدلی، د يوې بلې کورنی خونړۍ جګړې لپاره ټول شرايط برابر دي د افغانستان جغرافيه د تجزيې د خطر سره مخامخ ده، دغه ستونزو ته په کتو سره يو شی.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

ځکه پدې وخت کې چې افغانان سره يو نه شي، يو بل ته لاس ورنه کړي  هيواد، ولس، هويت او جغرافيه  يې چې
د لوی ګواښ سره مخامخ ده ونه ژغوري اوس هم د خپلو شخصي، ګوندي، قومي، ژبينو، سمتي او مذهبي مسايلو له
وجې يو بل
ته لاسونه نه سره ورکوي بيا د نو د افغانيت داعوا د نه کوي۰

ومن الله توفيق
ډاکټر ګل مرجان منګل


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په ځير و ولـئ